مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

احسان‌الله ارینزی
۲۰۲۳/۰۹/۰۱

# نړیوالې ټولنې

## ۷۸ برخه

سیمه ییزه ټولنې
اروپا
**پنځم څپرکی**
**سیمه ییزه ټولنې**
**آسیایې ټولنې:**

### ۷ -- د خلیج د همکارۍ شورا (GCC) Gulf Cooperation Council

د خلیج همکارۍ شورا د شپږو خلیجي هېوادونو سعودي عرب، کویت، قطر، بحرین، عمان او متحده عربي اماراتو په ګډون، په کال ۱۹۸۰ کې د طایف (سعودي عربستان) کنفرانس په یوه غیررسمي ناسته کې جوړه شوه.
اهداف:

- د کورنیو ناامنیو په وړاندې د غړو متقابله همکاري او مرسته،
- د بهرنیو ګواښونو په وخت کې د غړو ګډه همکاري او مرسته،
- په خلیج کې د امنیت د ټینګښت هلې ځلې،
- د غړو هېوادونو د بهرنیو سیاستونو همغږي،
- د غړو هېوادونو د دفاعي سیاستونو همغږي،
- اقتصادي همکاري،
- د غړو تر منځ د ګډ بازار جوړول،
- په صنعتي چارو کې همغږي،
- په ټولنیزو او فرهنګي چارو کې همکاري.[1]

جوړښت:

عالي شورا: د GCC عالي شورا د غړو هېوادونو له مشرانو څخه جوړه ده، چې په کال کې دوه ځلې غونډه کوي. شورا د ستونزو او اختلافونو د حل یو کمېسیون هم لري.
د وزیرانو شورا: د غړو هېوادونو د بهرنیو چارو د وزیرانو شورا، چې په هرو درېو میاشتو کې یوه غونډه کوي. د بهرنیو چارو له وزیرانو څخه پرته، د غړو هېوادونو نور وزیران هم په دې غونډو کې برخه اخستلای شي.
دارالانشا: د GCC د دارالانشا مشري د منشي په غاړه ده چې په ریاض (سعودي عرب) کې کار کوي.
تخصصي کمېسیونونه: GCC اته تخصصي کمېسیونونه لري: د اقتصادي او ټولنیزو ټګلارو د جوړوني کمېسیون؛ د مالي، اقتصادي او سوداګرۍ همغږۍ کمېسیون، د صنعتي همکاریو کمېسیون، د تېلي سیاستونو کمېسیون او د فرهنګي او ټولنیزو چارو کمېسیون.
فعالیتونه: که څه هم چې د GCC د غړو تر منځ د اقتصادي همکاریو له پاره جوړه شوې؛ خو د سیمې امنیت او ثبات یې هم له لومړیتوبونو څخه شمېرل کېږي.
په کال ۱۹۸۱ کې د شورا د غړو تر منځ د اقتصادي همکاریو یو هوکړه لاسلیک شوه چې غټ ټکي یې دا دي: د ګمرکي محدودیتونه لیرې کول، ګډه بهرنۍ سوداګري او د تېلي او صنعتي ټګلارو همغږي کول. GCC بهرنیو امنیتي ګواښونو د ژر مدافعې له پاره یو ۱۳۰۰۰ کسیز چټک غبرګون ځواک هم جوړ کړی دی.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنېزې بنې پاړوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

مقر: د GCC مرکز په ریاض (سعودي عربستان) کې دی.[2]
**۸ -- د اسیا پاسفیک اقتصادي همکاریو ټولنه(APEC) Asia – Pacific Economic Cooperation**
د تېرې پېړۍ په اتیایمه لسیزه کې، د آسیا-پاسفیک ګړندی اقتصادي پرمختګ، په اروپا کې د اقتصادي ډلو پیاوړتیا او د شمالي امریکا د آزادي سوداګرۍ تړون لاسلیک، د آسیا- پاسفیک سیمې هېوادونه، دې ته اړ ایستل چې د سیمه ییزه همکاریو پیاوړتیا او د نویو اقتصادي ټولنو جوړولو ته متې ونغاړي.
په کال ۱۹۸۹ کې د استرالیا لومړی وزیر، بای هوک، په اسیا- پاسفیک کې د اغېزمنو اقتصادي همکاریو نوښت وړاندې کړ، چې له ختیځ څخه یې لوېدیځ ته km ۱۲۰۰۰ اوږده سیمه نیوله.
په غبرګون کې کانادا، امریکا متحده ایالاتو، جاپان، جنوبي کوریا، فلیپین، اندونیزیا، مالیزیا، تایلند، سنګاپور، برونې او نیوزیلند د بهرنیو چارو وزیرانو، د نومبر په ۶ – ۷ ورځو، په کانبیرا (استرالیا) کې د اسیا-پاسفیک د اقتصادي همکاریو ټولنې یا Asia-Asia-Pacific Economic Cooperation بنسټ کېښود. چې په آسیا – پاسفیک کې د آزادو اقتصادي او ټولنیزې همکاریو له پاره، خورا مهم بین الحکومتي بنسټ بلل کېږي.
وروسته دا نور هېوادونه هم له APEC سره یو ځای شول: په کال ۱۹۹۱ کې تایوان او هانګ کانګ، په ۱۹۹۳ کې مکسیکو او پاپوا نیوګیني، په ۱۹۹۴ کې چیلي، په ۱۹۹۸ کې پیرو، روسیه، چین ولسی جمهوریت او ویتنام. هند په کال ۲۰۰۷ کې د APEC د غړیتوب غوښتنلیک وړاندې کړی، چې تر اوسه نه دی منل شوی. په دی توګه وینو چې دا ټولنه ټول ۲۱ غړی لری.[3]
که څه هم چې په APEC کې د غړیتوب لیکلی کړنلاره نشته؛ خو دا خبرې په پام کې نیول کېږي: د APEC له اصولو او اهدافو سره توافق، د سیمې له اقتصادونو او هېوادونو سره سوداګریزه اړیکې او د آزاد بازار اقتصاد لرل.
اهداف: APEC په سمندرونو کې د ګمرکي تعرفو او په اوبو کې د پولو د ستونزو او موانعو لیرې کول او د اقتصاد او سوداګرۍ په ډګرونو کې، د غړو هېوادونو په دریځونو کې، د همغږي منځ ته راوستل .
په دې سربېره د اندونیزیا د کال ۱۹۹۴ د سرمشریزې د پرېکړو له مخې: په سیمه کې آزاده پانګونه، د سوداګرۍ له لارې د اقتصادي همکاریو پراختیا، په ټوله کې اقتصادي اصلاحات، تر کال ۲۰۱۰ پورې د صنایعو پرمختګ او بیا هم تر ۲۰۲۰ پورې ۵% - ۰ پورې د ګمرکي تعرفو کمول او د غړو هېوادونو اقتصادي پرمختګ او نیکمرغی.[4]
جوړښت:
سرمشریزه: سرمشریزه د APEC تر ټولو لوړ تصمیم نیوونکی ارګان دی، چې په کال کې یو ځل د یو غړي هېواد په پلازمینه کې غونډه کوي او د غونډې ګډونوال د کوربه هېواد له دود سره سم، د همغه هېواد ملي جامې اغوندي او د مېلمه پال هېواد ولسمشر، د یو کال له پاره د APEC د مشر په توګه ټاکل کېږي.[5]
د وزیرانو شورێ: د APEC دوهم ځواکمن اجراییه ارګان، چې د غړو هېوادونو د بهرنیو چارو له وزیرانو جوړ دی. که چیرته د کوم هیواد/ هیوادونو د بهرنیو چارو وزیر/وزیران، په غونډه کی ګډون نه شی کولای، ځای یی د سوداګرۍ ( او صنایعو) وزیران نیسی.
د لوړپوړو چارواکو غونډې : د APEC د غړو هیادونو د استازو غونډه چې هر کال جوړیږی، او دنده لری چې هغه تګلارې او سیاستونه تطبیق کړی، چې د وزیرانو شورێ مخکی منظور کړی وی.
کارې ډلې: دا ټولنه په دی لاندې لسو برخو کې کاري ډلې لري چې اړونده چارواکي یې، په ټاکلو وختونو کې غونډې جوړوي او پرېکړې کوي: د انساني پراختیا پروګرام، پانګونه او د صنعتي تکنالوژۍ علوم، سیلانیان، سمندري خواړه، ټګ راټګ، اړیکې، د پانګونو او سوداګرۍ اطلاعات، د سوداګرۍ پراختیا او د سمندري زېرمو د خوندي ساتلو او انرژۍ په برخو کې سیمه ییزه مرسته.[6]
دارالانشا: د APEC دارالانشا د ټولنې ورځنۍ چارې مخ ته وړي، د ولسمشریزو غونډو او د وزیرانو د شورێ ګانو اجنداوې جوړوي او د پرېکړو د تطبیق مسوولیت په غاړه لري.
فعالیتونه: APEC د سیمې د یوې فعالې ټولنې په توګه، له همغه پیله تر اوسه ډېر ګامونه اوچت کړي چې لنډیز یې دا دی:
د دی ټولنی لومړنی غونډه په کال ۱۹۹۳ کې په واشنګټن کې جوړه شوه او د سوداګریزو او ګمرکي محدودیتونو په کمولو بحث وشو.
د ۱۹۹۴ په سرمشریزه کې چې په بوګور (اندونیزیا) کې جوړه شوه، د ټولنې مهم اهداف وټاکل شول.
د کال ۲۰۰۱ په سرمشریزه کې چې په شانګهای (چین) کې وشوه، د امریکا هغه طرحه ومنل شوه چې په اسیا – پاسفیک کې، د APEC د ازادو بازارونو په جوړولو، اصلاحاتو او ظرفیت لوړونې ټینګار شوی و. همدا راز غړو هېوادونو ژمنه وکړه چې د شفافیت معیارونه به پیاوړي او پلي کړي.
په دې غونډه کې په اسیا – پاسفیک کې، د راتلونکو ۵۰ کلونو له پاره د سوداګریزو معاملو په لګښتونو کې په ۵۰% کموالي او د ازادي سوداګرۍ په پراختیا هوکړه وشوه.
د کال ۲۰۰۴ په سرمشریزه کې، چې په سانتیاګو (چیلي) کې وشوه، د ترهګرې په ضد په مبارزه، د سودارګرۍ په پراختیا او د ازادې سوداګرۍ د هوکړې په ارزونه خبرې وشوې.
مقر: د APEC دارالانشا په سنګاپور کی موقعیت لری او کار کوی.[7]


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

[1] نړیوال سازمانونه، محمد نظیم سمون، ص ۲۲۵
[2] نړیوال سازمانونه، محمد نطیم سمون، ص ۲۲۶
[3] نړیوال سازمانونه، محمد نظیم سمون، ص ۲۲۹
[4] en.wikipedia.apec.org
[5] سازمانهای بین المللی، داکتر محمد غفوری، ، ص ۳۷۶-۳۷۵
[6] سازمانهای بین المللی، داکتر محمد غفوری، ، ص ۳۷۶-۳۷۵
[7] پوهاند محمد بشیر دودیال، د اسیا-پاسفیک د اقتصادی مرستو سازمان، انترنت


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ